مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۴/۰۴/۰۵

# عـقـیـده

چې د مینې نوم یی واورید ستا له خولې نه
بـوت ساتـونـکي ټـول را و وتـل کعـبې نه

نه پوهیږم ماته څنـګه را نصیب شـو؟
هـغه ګل چې و، رالـوتی له مـئرې نه

عجب زړه دی بیـا هم صبر له یار نه شـو
شـړل شـوی څـو کـرت و، دروازې نه

آخر سـتړي سـتړي پریوته آرام شــو
چـې بیـل شــوی و د پـلار د قـافلې نه

باوری یم که هـر څـو خاوری ایـرې شــی
راځـي بیـرته سـتا د پاره هـدیرې نه

دا اخـلاص له کـومه کیـږی ته پوهـیږی؟
دا را وځې تل د مـیـنې له سـینې نه

عـمر[رض] هم تـوره خطا کړه او تسلیم شو
چې خـبر شـو د اسلام له فلسفې نه

چې ځوانی کی کلیوال بی لارې نه شوو
زړ بوډی که به وا نه وړی عـقیـدې نه

مارچ ۲۰۲۴/۱۵


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ